United Nations S/RES/2777 (2025)

Security Council

Distr.: General

17 March 2025

# ۲۷۷۷ پریکړه لیک (۲۰۲۵)

**د امنیت شورا له خوا د ۲۰۲۵ کال د مارچ په ۱۷مه په ۹۸۸۰ مه غونډه کې تصویب شو،**

د امنیت شورا،

افغانستان په اړه د خپلو پخوانیو پریکړو په یادولو سره، په ځانګړې توګه ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پریکړه لیک چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) اوسنی ماموریت تنظیموي او د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) او ۲۷۲۷ (۲۰۲۴) پریکړه لیکونه چې نوموړی ماموریت د ۲۰۲۵ کال د مارچ تر ۱۷مې پورې غزوي،

په افغانستان کې د سولې او ثبات د ودې لپاره د ملګرو ملتونو د مهم رول پر دوام ټینګار کوي،

د افغانستان د حاکمیت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یووالي اړوند او همدارنګه د افغانستان د خلکو لپاره د خپل دوامداره ملاتړ په اړه پر خپلې قوي ژمنتیا بیا ټینګار کوي،

د افغانستان پر وړاندې د ځو اړخیزو ننګونو د حل لپاره د دوامداره اړتیا په درک کولو سره، بیا ټینګار کوي چې د ملګرو ملتونو د سیسټم دننه او بهر د اړوندو سیاسي، بشري او پرمختیایي فعالینو ترمنځ د دوی د اړوندو ماموریتونو سره سم یو منظمه او منسجمه تګلاره جوړه شي چې په افغانستان کې د سولې د رامینځته کولو او دوام لپاره خورا مهمه بلل کیږي،

د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو د درناوي د له منځه وړلو مخ پر زیاتیدونکو هڅو په اړه په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو لپاره د تعلیم، کارموندنې، عدالت، اقتصادي فرصتونو، په عامه ژوند کې د بشپړ، مساوي او معنی لرونکي ګډون، د تګ راتګ ازادي او همدارنګه بنسټیزو خدمتونو ته د دوی د مساوي لاسرسي نشتوالي په اړه خپله ژوره اندیښنه څرګندوي چې نشتوالی یې په هېواد کې سوله، ټیکاو او سوکالي ناشوني کوي. په دې برخه کې له طالبانو څخه غوښتنه کوي چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د اوامرو او پریکړو په ګډون هغه پالیسۍ او کړنې زر تر زره کړنې لغوه کړي چې په خصوصي او عامه طبي ادارو کې د ښځو او نجونو زده کړو ته لاسرسی له خنډ سره مخ کوي او همدارنګه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو او په نورو غیر دولتي سازمانونو کې د افغان میرمنو پر کار کولو بندیز لګوي، پداسې حال کې چې په افغان ټولنه کې د ښځو د لازمي رول او په پریکړو کې د دوی د رول او ګډون د زیاتوالي پر اړتیا بیا ټینګار کوي،

د بشري عملیاتو لپاره د تمویل د تشې او دوامداره خنډونو په ګډون په افغانستان کې د ناوړه اقتصادي او بشري وضعیت په اړه خپله ژوره اندیښنه څرګندوي. د افغانستان د اقتصاد پر وړاندې د مهمو ننګونو سره د مبارزې اړتیا درک کوي. د بانکدارۍ او مالي سیسټمونو پر بیا رغولو او د افغانستان د مرکزي بانک اړوند شتمنیو د کارولو له لارې، او د ۲۶۱۵ (۲۰۲۱) پریکړه لیک سره سم، په افغانستان کې د اساسي

بشري اړتیاوو ملاتړ لپاره د بشري مرستو او نورو فعالیتونو د پیاوړتیا پر اهمیت ټینګار کوي. پداسې حال کې چې پدې برخه کې د ملګرو ملتونو د همغږۍ مهم رول تاییدوي، او ټینګار کوي چې د نړیوالو او ملي غیر دولتي سازمانونو لپاره د نړیوالو بشري قوانینو او نورو پلي کیدونکو نړیوالو قانوني مکلفیتونو سره سم د ښځو په ګډون د بشري چارو د ټول پرسونل بشپړ، چټک، خوندي او بې خنډه بشري لاسرسی اړین دی،

په افغانستان کې د ترهګرو ډلو د شتون په اړه جدي اندیښنه څرګندوي او په سختو ټکو د ټولو ترهګریزو فعالیتونو او ټولو ترهګریزو بریدونو غندنه کوي او په افغانستان کې د ترهګرۍ سره د مبارزې پر اهمیت ټینګار کوي. همدارنګه پر دې غوښتنه بیا ټینګار کوي چې د افغانستان خاوره باید د کوم هېواد پر وړاندې د ګواښ، برید، د ترهګریزو کړنو د پلان یا تمویل، یا ترهګرو ته د پناه ورکولو او روزنې لپاره ونه کارول شي. هیڅ افغان ډله یا فرد باید د کوم هیواد په خاوره کې د فعالو ترهګرو ملاتړ ونه کړي. له طالبانو څخه غوښتنه کوي چې د امنیت شورا کمیټې لخوا د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹)، ۱۹۸۹ (۲۰۱۱)، او ۲۲۵۳ (۲۰۱۵) پریکړه لیکونو سره سم د اشخاصو او ډلو، ادارو او شرکتونو په ګډون له ترهګرۍ سره د مبارزې د پیاوړتیا لپاره فعال اقدامات تر سره کړي او ټینګار کوي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې ستراتیژیو یو ځانګړی هدف باید د دوامداره سولې او امنیت څخه ډاډ تر لاسه کول وي،

له افغانستان سره د غیرقانوني نشه یي توکو او کیمیاوي موادو د کښت، تولید، سوداګرۍ او قاچاق پر وړاندې د مبارزې لپاره پر خپل ملاتړ ټینګار کوي او تاییدوي چې په افغانستان کې د نشه یي توکو د قاچاق غیرقانوني عاید لاهم د ترهګرو ډلو او غیر دولتي لوبغاړو لپاره د تمویل سرچینه ده چې سیمه ییز او نړیوال امنیت ګواښي. او هغه ګواښونه پیژني چې ترهګرې ډلې او غیر دولتي ښکیل کسان یې د مخدره توکو د سوداګرۍ او د طبیعي سرچینو د غیرقانوني استخراج له لارې د افغانستان امنیت او ثبات ته زیان رسوي او له دولتونو څخه غوښتنه کوي چې له دې ګواښ سره د مبارزې لپاره نړیواله او سیمه ییزه همکاري پیاوړې کړي. او د اپینو د کښت د کمولو لپاره د بدیل معیشت ملاتړ په برخه کې د نشه یي توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو د دفتر مهم رول پیژني،

په افغانستان او سیمه کې د کوچنیو او سپکو وسلو د غیرقانوني سوداګرۍ او له دې اړخه د بې ثباتۍ د مخنیوي لپاره د سیمه ییزو او نړیوالو هڅو لپاره پر خپل ملاتړ ټینګار کوي،

د داخلي بې ځایه شویو کسانو او کډوالو د رضاکارانه، خوندي، باعزته او دوامداره راستنیدو اوله خپلو ټولنو سره د بیا یوځای کیدو لپاره د مناسبو شرایطو د رامینځته کولو لپاره د هڅو پر ملاتړ ټینګار کوي،

د طبیعي پیښو لکه سیلابونو او وچکالۍ د اغېزو او خطرونو د کمولو پر اړتیا ټینګار کوي چې کولی شي د خوراکي توکو، د اوبو کمښت او د ځمکې تخریب په ګډون په افغانستان کې پر بشري وضعیت او ټولنیز اقتصادي ثبات منفي اغېزه وکړي،

۱. د افغانستان د خلکو د ملاتړ لپاره د ملګرو ملتونو د اوږدمهاله ژمنې ستاینه کوي، د یوناما او د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړې استازې له کار سره خپل بشپړ ملاتړ بیا تکراروي، او په سیمه کې د دوی د دوامداره شتون پر اړتیا ټینګار کوي؛

۲. د خپل ماموریت او لومړیتوبونو د پلي کولو په برخه کې د یوناما د روانو هڅو هرکلی کوي؛

۳. لکه څرنګه چې په ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پریکړه لیک کې تعریف شوی دی، د ۲۰۲۶ کال د مارچ تر ۱۷ نیټې د یوناما د ماموریت د غځولو پریکړه کوي

۴. په ټول افغانستان کې د یوناما او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو، فنډونو او پروګرامونو د دوامداره شتون پر

اهمیت ټینګار کوي، او د اړوندو چارواکواو نړیوالو فعالینو په ګډون په ټولو ښکېلو افغان سیاسي لوبغاړو او اړخونو غږ کوي چې له یوناما سره د دې ماموریت په پلي کولو کې همغږي وکړي او په ټول هېواد کې د ملګرو ملتونو او د دوی اړوند کارکوونکو خوندیتوب، امنیت او د تګ راتګ آزادي خوندي کړي؛

۵. غوښتنه کوي چې د ملګرو ملتونو سرمنشي د افغانستان د وضعیت او د یوناما د ماموریت د پلي کولو په اړه شورا ته په هرو دریو میاشتو کې راپور ورکړي، په شمول د سیمه ییزې کچې؛

۶. پریکړه کوي چې موضوع په فعاله توګه تر خپل نظر لاندې وساتي